Afghanistan Watch
دیده‌بان افغانستان

international center for TRANSITIONAL JUSTICE

موضوع: افریقا

# په افریقا کې شخړه او انتقالي عدالت

د افریقا تر صحرا لاندې ، هغه تیاره لوېې وچې چې د غلامانو د پیر او پلور، نړیوونکو جګړو، نژادي تبعیض او له بشري حقونو او انساني کرامت سره متضادو دود دستورونو تور داغونه یې په ځان باندې درلودل ، ځو هېوادونو هوډ وکړ ترڅو له دې ټکني حالت څخه ووځي او عدالت او انساني کرامت او د بشر د حقونو ارزښتونو ته پام واړوي. د همدې هوډ پر بنسټ یې د ۱۹۹۰ لسیزې له لومړیو څخه و پتیله ترڅو د انتقالي عدالت د بهیر په وسایلو او لارو چارو باندې په دې لګولو لکه په قضایي تعقیب، حقیقت موندنې او روغې جوړې او په عدلي، قضایي او امنیتي سیستمونو کې په سمونوسره په تېرو وختونو کې د بشریت ضد جرمونو په اړه کړنې ترسره کړي. خو په خواشینۍ سره د یوې واحدې سیاسي غوښتنې نشتوالي او د دولتي ارګانونو کمزورۍ دا ټولې غوره او د ارزښت وړ هڅې بې پایلې کړې. د دې هیوادونو د تل پاتې سولې او روغې جوړې پروګرامونه د انتقالي عدالت له منځ ته راتګ او په تېرو کې په بشري ضد جرمونو باندې د غور کولو له بهیر سره یوځای بې ګټې او شنډ پاتې شول.

## د ځمکې د مخ دوزخیان

افریقا لویه وچه له غمونو او تراژیدیو ډکه سیمه ده چې د پخوانی او نني نړۍ په برزخ کې لالهانده ده. دې برزخي نړۍ ترټولو دوزخي ظلمونه د تاریخ په زړه کې په یادګار پرېښې دي. که چېرته د دې لویې وچې تاریخ ته وګورو، نه به د خپلواکۍ نښې پکې وینو او نه به د ولسواکو حکومتونو کومه نښانه پکې ترسترګوشي او نه به هم پکې سوله او هوساینه ولیدل شي. بلکې د دې سیمې اوسیدونکې ؛ د ځمکې د مخ دوزخیان ؛ دي چې تل د پردیو هیوادونو تر یرغل او وحشیانه زورواکیو او ښکېلاک لاندې راغلي دي او تل یې مستبد او ظالم او د سیاسي مخالفینو ځپونکي حکومتونه او په ځانګړې توګه له بشري حقونو څخه سرغړونې او دهغو تر پښو لاندې کول تجربه کړي دي.

یوګاندا، ایتوپی او اریتریا د د دې لویې وچې دهغې هېوادونو له ډلې څخه دي چې په ۱۹۹۰ لسیزه کې یې له بشري حقونو څخه د سرغړونې او د هغه ترپښولاندې کولو ترخې او سختې تجربې په پراخه پیمانه شاته پرېښې. هغه هیوادونه چې د مستبدو او زورواکو یو ګوندیزو حکومتونو په پایله کې د بشر د حقونو د تر پښو لاندې کولو مرتکب شوي دي. د دې یوه غړ په بهیر کې ډېر غړونه په ستونې کې بند کړل شوي دي. همدارنګه سیرالیون او لیبریا هیوادونو هم د کورنیو او سیمه ایزو جګړو دردوونکې تجربې تر سر تېرې کړې دي. داسې هیوادونه چې فاسدو ولسمشرانو یې د طبیعي سرچینو د ترلاسه کولو لپاره کورنۍ جګړې په لاره اچولې دي چې د وسلوالو شخړو په پایله کې له بشري حقونوڅخه پراخه سرغړونې رامنځ ته شوې دي.

کنیا او زیمبابوې هم د هغو هیوادونو په ډله کې دی چې د مخالفینو بېلابېل غړونه یې ځپلي دي، داسې هیوادونه چې سیاسي نظامونو یې خپل مخالفین په زور سره ځپلي دي او دخپلو وګړو سیاسي حقونه یې ترپښو لاندې کړي دي.

ډېرو افریقایي هېوادونو چې د کورنیو او یا سیمه ایزو جګړو او شخړو ترخه پړاوونه یې وهلي دي، اوس مهال له نوي سیاسي پړاو څخه د تېرېدو په حال کې دي . سره له دې بیاهم تر دې مهاله ځینې هیوادونو ونشوکولای ځان د وسله والو شخړو له منګلوڅخه و ژغوري.

بروندي، د کانګو ولسواک جمهوریت، لیبریا، سیرالیون او سوډان هیوادونه هم کلونه کلونه د وسلوالې شخړې په اور کې وسوځېدل او سوځي او ایرې یې لالهانده بادونو د دې هیوادونو د تیاره تاریخ ترټولو لیرې ټکو ته له ځان سره یوړلې. نړیوالې ټولنې په دې هیوادونو کې د سولې د ټینګښت او د ټاکنو لپاره د مناسبو شرایطو رامنځ ته کولو په اړه هلې ځلې کړې دي. خو څرنګه چې




جنایت کارو ګوندونه او له بشري حقونو څخه سرغړوونکي او اقتصادي داړه ماران یې هم د مشروع ګوندونو په څېر په ټاکنو کې شریک کړي دي، نو په خواشینۍ سره چې نوموړي هېوادونه به لږ موکه تر لاسه کړي ترڅو تل پاتې ولسواکۍ او دایمي سولې ته ورسیږي. ځکه چې سوله او ولسواکي له جنګي جرمونو او اقتصادي داړه مارۍ سره همغږې کېدای نشي او ګډې هڅې منځ ته نشي راتلای.

## موکې او ستونزې

په افریقا کې د بشري حقونو د ترپښو لاندې کولو د پراخې کچې په دوړو او د ایرو په ډېرې کې د انتقالي عدالت د خوندي کولو لپاره مناسبې هلې ځلې رامنځ ته شوې او اوارې شوې دي. خو دا بهیر ، د عدالت د تطبیق لپاره د

پاتې د پاڼې په بل مخ کې

همدې موکو او مساعدو لارو چارو سره سره له ګڼ شمېر ستونزو سره مخا مخ شوی دی. د دې هلوځلو له ډلې څخه کولای شو د سراليون (۱۹۹۱) ، ليبريا (۲۰۰۳) او سوډان (۲۰۰۵) کلونو د سولې خبرو اترو ته اشاره وکړو.

هغه خبرې اترې چې په هغو کې نړيواله ټولنه په دې هيوادونو کې د مدني ټولنې او بشري حقونو پرپياوړتيا باندې را و څرخېدل او نوموړو هېوادونو هم سولې او مسئوليت منلې ته ښه راغلاست وويل چې په پايله کې د قربانيانو او د بشري حقونو ملي ډلو ته دا موکه په لاس ورغله ترڅو په حقيقت موندنې او د انتقالي عدالت په تامين باندې نور هم راو څرخيږي.

د سومالي، سيرالئون او ليبيريا سقوط او په ۱۹۴۹ کال کې په رواندا کې نسل وژنه او له جګړې وروسته پړاو او د پردي ښکېلاك لخوا د ګاونډي هيواد د کانګو ولسواک جمهوريت نيول هغه له تاوتريخوالي ډکې وسله والې شخړې وې چې دې هېوادونو تجربه کړې او د افريقا لويه وچه يې په سخته توګه وځپله او د بشري حقونو پراخې سرغړونې يې له ځانه سره درلودې. وروسته دې شخړو افريقايي رهبران دې ته وهڅول ترڅو د تاوتريخوالي د عاملينو او مفسيدينو د معافيت له ستونزو څخه د بهرته د وتلو لارې و لټوي. افريقايي اتحاديې دخپل ۲۰۰۰ کال په قانون جوړونې سره ژمنه وکړه ترڅو د دې اتحاديې د غړو هيوادونو ملکي کسان د جنګي جرمونو له خطرونو او ډله ايزو ظلمونو څخه که څه هم د دوی د خپلو حکومتونو لخوا ترسره کيږي خوندي وساتي. دا ژمنه چې د ؛ خوندي ساتنې د مسئوليت؛ د دکتورينو په نوم ياديږي ، له هرڅه د مخه يې د نړيوالو ټولنو لخوا ملاتړ شوی و.

افريقايي دولتونه ژمن دي ترڅو په ډله ايزه توګه په هغو هيوادونو کې چې د بشري حقونو څخه په لوړه کچه پکې سرغړونې شوې دي انتقالي عدالت رامنځ ته کړي او د معافيت د کلتور مخه ونيسي. همدارنګه يې د سيرالئون لپاره ځانګړې محکمې، د رواندا لپاره نړيواله جزايي محکمې هڅه کړې ده ترڅو جنايتکاران او د بشري حقونو ترپښو لاندکوونکی و هڅوي ترڅو په خپلو جرمونو او له بشري حقونو څخه د سرغړونو په ارتکاب باندې اعتراف وکړي او د جرمونواو سرغړونو پړه په غاړه واخلي.

د دې ديوان د پياوړتيا لپاره ۳۰ افريقايي هيوادونو د روم بنسټ ليک لاسليك کړ او نړيواله جزايي محکمه يې جوړه کړه. يوګاندا، د کانګو ولسواک جمهوريت او د مرکزي افريقا جمهوريت له هغو لومړنيو هيوادونو څخه و چې د بشريت ضد جرمونو په اړه د کړنو د پلي کولو په ستونزمنه لاره کې چې له بشري حقونو څخه په سرغړونو تورن کسان يې د رواندا لپاره نړيوالې جزايي محکمې (ICC) ته راجع کړل ، خو ددې ديوان پلټنې د کنګو په ولسواک جمهوريت او سوډان کې د دې محکمې او افريقايي اتحاديې ترمنځ د ترينګلتيا لامل ګرځېدلی دی.

په داسې حال کې چې نړيوالو محکمو د بشري ضد جرمونو او د بشريت په وړاندې جنايتونو د څېړلو مينه له لاسه ورکړې ده ، له دې سره سره د انتقالي عدالت کارپوهان، له هرډول ناهيلۍ او بې زړه توب پرته د څېړنو او له هغو دوديزو لارو چارو څخه له ګټه اخيستنې لپاره متې را ونغښتې کومې چې د قبيلوي او قومي دود دستورونو څخه بهر د شخړو د حل فصل لپاره د څيړنې وړ دي. له همدې مخې د يوګاندا او د سوډان د دارفور دسيمې فعالين د ټولنوترمنځ د تاوان د ورکولو په ميکانيزم باندې ډه ډه لګوي دا يو داسې ميکانيزم دی چې په نورو هيوادونو کې يې د ريښې شونتيا هم شتون لري.

څېړنو ښودلې ده چې د افريقا وروستۍ شخړې د ځينو ځانګړتياو ؛ لکه د سيمه ايزو شخړو ځغلند؛ او ؛ بومی فساد ؛ درلودونکې دي. دې ځانګړتياو د انتقالي عدالت او بشري ضد جنايتونو ته د رسېدو په لاره کې خنډونه راټوکولي دي . د همدې ځغلند محور له مخې افريقايوه داسې سيمه ده چې شخړه په هغه کې په ډېره لږه کچه د يوې پولې په دننه کې محدوده پاتې کيږي. د همدې ځغلند والي پربنسټ، دا اړينه ده ترڅو د تل پاتې سولې هڅې او مسئوليت منل د نورو ګاونډيو هېوادونو د شخړو په پراخه کچه کې وکتل شي.

د دې هڅو په لړ کې د نړيوالې محکمې درې ديوانونو په پام وړ توګه د بشري حقونو څخه د سرغړاوي د سيمه ايزې پيچلتيا غندنه کړې ده. په همدې لار کې، د عدالت نړيواله محکمې په ۲۰۰۵ کال کې اعلام کړه چې يوګاندان د کنګو د ختيځې سيمې د اشغال په پړاو کې د بشري حقونو د ترپښو لاندې کولو پړه په غاړه لري. همدارنګه د حکميت دايمي محکمې حکم وکړ چې اريتريا د ايتوپي په ضد جګړه کې په هغه هيواد باندې تجاوز کړی دی. او د سيراليون ځانګړې محکمې هم د ليبيريا په پخواني ولسمشر چارلز تايلور(Charles Taylor ) د سيرالئون په کورنۍ جګړه کې د رول لوبلو له امله د هغه د مجرم پيژندلو اعلان وکړ او هغه يې تر قضايي تعقيب لاندې ونيو.

د فساد موضوع هم د افريقايي هيوادونو له ستونزو را ولاړوونکو مواردو څخه ګڼل کيږي چې د عدالت او تل پاتې سولې تامين يې له جدي خنډونو سره مخامخ کړی دی.د افريقايي بشري حقونو ځينې فعالين په دې باور دي چې اقتصادي فساد او جرايم د بشري حقونو څخه د سرغړونو بنسټ جوړوي ځکه له فساده راټوکيدلې بيوزلي په خپله د تاوتريخوالي د را ولاړېدو لامل ګڼل کيږي.

**د انتقالي عدالت نړيوال مرکز** (ICTJ) : د انتقالي عدالت نړيوال مرکز داسې يو ارګان دی چې د انتقالی عدالت د خونديتوب لپاره کار کوي، دا ارګان له هغو هيوادونو سره چې غواړي د تل پاتې سولې او په تيرو کې پر بشري ضد جرمونو باندې دعدالت د پلي کولو په اړه فعاليت وکړي، مرسته کوي. د دې مرکز د فعاليت سيمه هغه ټولنې دي چې له ځپونکو حکومتونو او يا وسله والو شخړو څخه راوتلې وي او يا په هغو هيوادونو کې ولسواکي نوې را ټوکېدلې وي او تر اوسه لا له پخوا پاتو ستونزو لکه له عدالت څخه پراخ سرغړاوی او د بشري حقونو سيستماتيک تر پښولاندې کولو سره لاس او ګريوان وي د دې سازمان په اړه د نورو ډېرو مالوماتو لپاره په www.ictj.org پته باندې مراجعه وکړئ.

**د افغانستان د څار ټولنه:** د افغانستان د څار ټولنه يو افغاني مدني بنسټ دی چې لرليد يې يوې ولسواکې، سوله ايزې، متواضع او له عدالت څخه برخمنې ټولنې ته رسېدل دي چې ټول وګړي يې وکولای شي له مساوي فرصتونو څخه برخمن وي. د دې بنسټ ماموريت د هغو کړو وړو سرته رسول دي چې پايله يې په افغانستان کې د سولې ، عدالت او يو د بل د منلو د فرهنګ پياوړتيا او بشري حقونو ته درناوی وي. ولسواکی، عدالت، بشري حقونو، په هيواد کې انډوليزې ټولنيزې او اقتصادي پرمختيا ، بې پربوالي، خپلواکی او تخصص ته تېنګه ژمنتيا د دې سازمان د کړو وړو د لاربنود په توګه له چورليزو ارزښتونو څخه ګڼل کيږي. د افغانستان د څار ټولنې په اړه د نورو زياتو معلوماتو لپاره لاندې ويب پاڼې ته مراجعه وکړئ: www.watchafghanistan.org